


***بیرنی‌لغوه:*** Abbott د ماشومانو لپاره خپله **Similac پوډري شیدې** لغوه کړې دي.

- Similac پوډر - Advance، Total Comfort، Sensitive او Spit Up
- Alimentum پوډر

**د ماشوم لپاره لغوه شوې شیده د لاندې شیانو لرونکی دي:**

- د لاټ شمېرې یې په 22-37 پیلیږي؛ **او**
- K8، SH، یا Z2 (انځور وګورئ)؛ **او**
- د اعتبار د ختمېدو نېټه اپرېل 2022 یا وروسته

د خپلو شیدو د لاټ شمېرې په [similacrecall.com](similacrecall.com) کې وګورئ.

- د لغوې په صورت کې، خپل ماشوم له دې شیدو څخه مه تغذیه کوئ.
- لغوه شوې ټولې قطعې په "Do Not Use"«مه یې کاروئ» نښه کړئ. لاندې د ماشوم د شیدو د بدلولو یا لرې کولو د څرنګوالي جزییات وګورئ.

**د WIC شیدو اختیارونه:**

- [**د نوي زیږېدلي ماشوم د شیدو لپاره لنډمهاله اختیارونه- لارښود له تصویرونو سره (22/10/3) (PDF)**]()

**په خپل کور کې ساتل شوې د ماشومانو لغوه شوې شیدې څنګه بدلولی شو:**

1. **پلورنځي -** هڅه وکړئ د خپل ماشوم شیدې بېرته پلورنځي ته راوړئ
   - هر پلورنځي توپیر لري چې څخه وړاندې کوي.
   - ځیني پلورنځي شاید د ماشوم لغوه شوې شیدې بېرته واخلي او بدل یې کړي، کرېډېټ ورکړي یا یې بېرته پیسې ورکړي. که دا یو اختیار وي، تاسو کولای شئ چې د ماشوم د شیدو د ترلاسه کولو لپاره له هغه کرېډېټ څخه استفاده وکړئ یا یې پیسې بېرته ورکړئ
   - که پلورنځی د ماشوم شیدې نه بدلوي لاندې 2 او 3 شمېرې وګورئ.

2. د Similac شیدو **شرکت (Abbott)** - د ماشوم لغوه شوي فارموله بېرته Abbott ته راوړئ

کورنۍ کولای شي په کور کې لغوه شوي د ماشوم شيدې بېرته Abbott ته ورکړي. د دې چارې د ترسره کولو لپاره:

- د www.SimilacRecall.com ته لاړ شئ يا له 1-800-986-8540; سره اړيکه ونيسئ
- په وېب پاڼه کې، د پاڼې لاندې برخې ته راشئ او "Check Lot Number" «د لاټ شمېره چک کړئ» کېکاږئ؛
- د لغوه شوې شیدو د قطعې پر بشکتنۍ برخه د لاټ شمېره درج کړئ؛
- که دا د ماشوم لغوه شوې شيدې وي، يوه کښي فورمه به څرګنده شي چې دا په ګوته کوي چې د لاټ شمېره د لغوې یوه برخه ده.
- فورمه ډکه کړئ او بېرته يې راولېږئ؛
- یو پیغام به ترلاسه کړئ چې وايي، "Abbott received the return request and to watch your email for a link to get the unique return label";«Abbott د مسترد کېدو درخواست ترلاسه کړی دی او خپل برېښناليک د یوه لېنک لپاره چک کړئ ترڅو د د مسترد کېدو ځانګړی لېبل ترلاسه کړئ؛
- کورنۍ اړ دي چې د ماشومانو شيدې په بکس کې ځای پر ځای کړي، ورانديې شوی لېبل اضافه کړي، او د برېښناليک له لارښوونو سره سم يې واخلي تر څو يې بېرته Abbott ته واستوئ;
- دا به تر 4 اونيو پورې وخت ونيسي چې کورنۍ چک ترلاسه کړي. کورنۍ له مالي تمويل څخه د ګټې اخيستنې په برخه کې محدودې نه دي.

## د ماشوم WIC شيدو د بدلولو او تغير د څرنګوالي ګټې:

1. **WIC کلينيک -** د ماشوم د شيدو د بدلولو یا تغيرولو د ګټو د ترلاسه کولو لپاره خپل WIC کلينيک ته زنګ ووهئ
    - چک کړئ چې د Women, Infants and Children  (WIC)، ښځې، نوې زيږېدلي او ماشومان) کومې شيدې ستاسو په پلورنځي کې شته؛
    - کلينيک ته زنګ ووهئ چې د اړتيا په صورت کې د ماشوم د شيدو ګټې بدلې يا لرې کړي؛
2. **د WIC ايالتي دفتر-** که تاسو خپل کلينيک ته نشئ ورتلی، له دوشنبې تر جمعې پورې د سهار له 8 بجو د ماښام تر 5 بجو پورې ايالتي دفتر ته په 1-800-841-1410 شمېره زنګ ووهئ.

## سرچينې:

- د خوړو بنسټيز پروګرام SNAP) Supplemental Nutrition Assistance Program، د اضافي تغذيې د مرستې پروګرام)  او د خوړو بانکونه - **ParentHelp123 webpage**  يا 1-800-322-2588 شمېرې ته زنګ ووهئ.

دا سازمان مساوي فرصت چمتو کوونکی دی.

توپيري چلند نه کوي WIC واشنګټن.

په يوه بل فارمټ کې د دغه سند د غوښتنې لپاره له 1-800-841-1410 سره اړيکه کې شئ. کاڼه يا هغه پيرودونکي چې په اورېدو يا ته برښناليک واستوئ (Washington Relay) کې ستونزه لرئ، مهرباني وکړئ له 711 شمېرې سره اړيکه ونيسئ.
WIC@doh.wa.gov

DOH 961-1265 March 2022 Pashto